
# د راجستریشن مهالویش لپاره غوښتنلیک


د دریم هیواد تبعه یا تابعیت لرونکي (PTX/ΠΤΧ) د مهاجرت او پناه غوښتنې ریاست پاڼې ته د ننوتلو سره کولی شي د راجستریشن پلان غوښتنلیک کور پاڼي ته ننوځي (شکل 1).



شکل 1: د راجستریشن مهالویش آنلاین غوښتنلیک کور پاڼه

په پورتنۍ ښی خوا کې، تاسو کولی شئ هغه ژبه وټاکئ چې تاسو یې غواړئ، په یوناني کلیک وکړئ او هغه ژبه غوره کړئ چې تاسو یې غواړئ (شکل 1).

که چیرې PTX یا د دریم هیواد په دی تڼۍ کلیک وکړئ د غوښتنلیک پېژندنه یا په خوندي شوی غوښتنلیک، لاندی پیغام به ښکاره شي (شکل 2):




شکل 2: د ننوتلو (لوګ این) پیغام

پر دی آیکون/عکس کلیک کول پیوستون به تاسو د ننوتلو (لوګ این) پاڼي ته ولیږدوي (شکل 3).




شکل 3: د ننوتلو پاڼه

پدې وخت کې غوښتونکی باید خپل بریښنالیک داخل کړي او تایید تڼۍ ته فشار ورکړي .

هغه به بیا په خپل بریښنالیک کې د otp-no-reply@migration.gov.gr څخه یو پیغام ترلاسه کړي، د تایید کوډ سره، کوم چې هغه باید په خالي بکس کې دننه کړي (4 شکل). دا پروسه باید هرکله تکرار شي کله چې تاسو غواړئ غوښتنلیک ته ننوځئ.




شکل 4: د تایید کوډ دننه کړئ

تاسو باید بیا د ننوتلو (لوگ این) تڼۍ غوره/انتخاب کړئ  د دې لپاره چې د غوښتنلیک لومړي پاڼې ته داخل شئ، د غوښتنلیک پاڼه (5 شکل)، چیرې چې هغه باید د پژندنې څېنې معلومات، د اړیکو معلومات، څنګه یونان ته ننوتل او د نوبت (رانديوو) په اړه معلومات لکه نقطه او ژبه ډک کړي. کچیرې نوموړی غواړي چې د هغه د کورنۍ د بالغ او کوچني غړو شمیر هم ثبت شي. که چیرې PTX دمخه پلیټ فارم ته په مخکېنۍ ننوت کې غوښتنلیک خوندي کړی وي، د لنډمهاله غوښتنلیک پاڼه به مستقیم ښکاره شي (شکل 6).

په پورتنۍ ښې خوا کې، غوښتونکی کولی شي وګوري چې دا غوښتنلیک د هغه د بریښنالیک سره تړلی دی چې مخکې یې کارولی و.




**شکل 5: د غوښتنلیک لنډمهاله پاڼه**

یوځل چې هغه پروسه بشپړه کړي هغه باید **خوندي کړئ** تڼۍ غوره کړي چې د لنډمهاله غوښتنلیک پاڼي ته ورل کیږي (6 شکل).

## موقتي غوښتنلیک #95

### د نوم لیکنی مهالویش لپاره غوښتنلیک

د هغه معلوماتو د بدلولو لپاره چې تاسو ډک کړي دي د غوښتنلیک ترمیم (ایډیټ) کولو لینک باندې کلیک وکړئ.
د خپل غوښتنلیک نهایی کولو لپاره وروستی غوښتنلیک لینک باندې کلیک وکړئ. احتیاط! د وروستي سپارلو وروسته به نور د غوښتنلیک ترمیم (ایډیټ) کول امکان ونلري.

| | |
|---|---|
| کړنې | د غوښتنلیک ترمیم<br>وروستنی سپارنه<br>غوښتنلیک لغوه کول |
| **د پیژندنې معلومات** | |
| آیا تاسو د خدمت نوټ (پولیسو برګه) لرئ؟ | هو |
| د نیمه نوم لیکنی شمیره - وولیسي | 123456 |
| نوم | TEST |
| تخلص | TESTEST |
| د پلار نوم | ESTEST |
| د زیږون نیټه | 01/01/1980 |
| جنیست | نارینه |
| ملیت | Bangladesh |
| د پاسپورټ ګڼه/شمیره | ABC123456 |
| **اړیکه** | |
| ګرځنده ټیلیفون - موبایل | 6911111111 |
| **یونان ته ننوتل** | |
| د ننوتلو لار | د سمندر په واسطه |
| ننوتلو نقطه | Mytilini |
| **د نوم لیکنی ملاقات (راندیوو)** | |
| د نوم لیکنی نقطه | MALAKASA: Malakasa Facility, CAMP 'GERAKINI', 19011 MALAKASA |
| د نوم لیکنی ژبه | PASHTO |
| د ثبت نیټه | - |
| د نوم لیکنی وخت | - |
| د حوالې شمیره | - |
| د کورنی بالغ غړي | 2 |
| د کورنی کوچني غړي | 1 |

**شکل 6: د غوښتنلیک لنډمهاله پاڼه**

د عمل په ساحه کې، PTX درې اختیارونه لري:

- غوره کول د غوښتنلیک ترمیم ، غوښتونکی کولای شئ غوښتونکی کولای شي مخکې ورلندی شوي معلومات/توضیحات سم (ایډیټ) کړي او د غوښتنلیک کور پاڼې (اپلیکیشن) ته واستول شي.
- غوره کول وروستنی سپارنه، غوښتونکی کولای شئ په پای کې خپل غوښتنلیک وسپاري او
- غوره کول غوښتنلیک لغوه کول ، غوښتونکی ته دا امکان ورکول کیږي چې هغه غوښتنلیک لغوه کړي چې هغه وړاندې کړی دی (6 شکل) او له پیل څخه یو نوی پیل کوي.

وروسته له دې چې غوښتونکی د وروستي/نهایی سپارلو تڼۍ غوره کوي، دوی به د وروستي سپارلو پاڼې ته لیږدول کیږي (7 شکل).




**شکل 7: د سپارلو وروستۍ پاڼه**

په نهایت کې ، PTX په دقیق ډول د غوښتنلیک سپارلو لپاره ، یوازې تڼۍ غوره کړئ سپارل . په بدیل/ متابادل توګه سره د شاته تګ تڼۍ په غوره کولو سره دا ممکنه ده چې د موقتي غوښتنلیک پاڼي ته بیرته ستانه شئ. هر کله چې تاسو خپل غوښتنلیک وسپارئ، **"ستاسو غوښتنلیک په بریالیتوب سره سپارل شوی"** پیغام به څرګند شي.

بیا، د غوښتنلیک وروستۍ پاڼه به ښکاره شي (8 شکل).

## وروستی غوښتنلیک #95

### د نوم لیکنی مهالویش لپاره غوښتنلیک

غوښتنه حتمي ده.
په خپل بریښنالیک کې د غوښتنلیک لومړني توضیحات ترلاسه کولو لپاره د 'ډاونلوډ ثبوت' لینک باندې کلیک وکړئ.

| | |
|---|---|
| کړنې | د رسیدو/ترلاسه کیدو رسید |
| **د پیژندنې معلومات** | |
| آیا تاسو د خدمت نوټ (پولیسو برګه) لرئ؟ | هو |
| د نیمه نوم لیکنی شمیره - وولیسي | 123456 |
| نوم | TEST |
| تخلص | TESTEST |
| د پلار نوم | ESTEST |
| د زیږون نیټه | 01/01/1980 |
| جنیست | نارینه |
| ملیت | Bangladesh |
| د پاسپورټ ګڼه/شمیره | ABC123456 |
| **اړیکه** | |
| ګرځنده ټیلیفون - موبایل | 6911111111 |
| **یونان ته ننوتل** | |
| د ننوتلو لار | د سمندر په واسطه |
| ننوتلو نقطه | Mytilini |
| **د نوم لیکنی ملاقات (راندیوو)** | |
| د نوم لیکنی نقطه | MALAKASA: Malakasa Facility, CAMP 'GERAKINI', 19011 MALAKASA |
| د نوم لیکنی ژبه | PASHTO |
| د ثبت نیټه | 20/07/2022 |
| د نوم لیکنی وخت | 10:00 |
| د حوالې شمیره | 11881 |
| د کورنی بالغ غړي | 2 |
| د کورنی کوچني غړي | 1 |

شکل 8: د غوښتنلیک وروستۍ پاڼه

د وروستۍ غوښتنلیک پاڼې څخه، د غوښتونکې د عمل په ټاکلو سره د رسیدو/ترلاسه کیدو رسید، تاسو به د وروستي غوښتنلیک د ثبوت پاڼې ته ورټل کېږئ (9 شکل). د **"رسید ترلاسه کړئ"** تڼۍ په غوره کولو سره، به ستاسو د راندیوو رسید به ستاسو بریښنالیک ته واستول شي کوم چه تاسو په پیل کې وراندی کړی و، پداسې حال کې چې د "شاته تګ" تڼۍ په غوره کولو سره، هغه به د غوښتنلیک وروستۍ پاڼې ته ولیږدول شئ.




9 شکل: د وروستي غوښتنليک ثبوت

په هر وخت کې، دا امکان لري چې د **پيوستون آيکون** په غوره کولو سره به تاسو بهر (لاګ آوټ) شئ، چيرې چې تاسو ته **"تاسو د غوښتنليک څخه لاګ آوټ شوي ياست"** پيغام به ښکاره شي.

په ورته وخت کې، هغه کولی شي هرکله چې وغواړي اړيکه ونيسي لکه څنګه چې هغه لومړی ځل وصل کړی.